# مطبوعاتي اعلامیه

## د افغانستان د عامه روغتیا وزارت او د امریکا د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې لخوا د نري رنځ (توبرکلوز) د کنترول پروژه پیل کړه

**د ۲۰۱۵ کال د اپریل۳۰ مه نیټه، مزارشریف، افغانستان:-** د امریکا د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې د افغانستان د عامه روغتیا له وزارت سره ګډه د اپریل په اوه ویشتمه نېټه د دوشنبې په ورځ د توبرکلوز په وړاندې د مبارزې کمپاین په لاره واچولو. ددې کمپاین موخه په نري رنځ د اخته افغانانو د تشخیص او درملنې په برخه کې د افغان ډاکټرانو او روغتیايي کارکوونکو د وړتیا لوړوالی دی.

نری رنځ یوه انتاني ناروغي ده چې هرکال تقریباً ۱۳۰۰۰ افغانان وژني. پداسې حال کې چې نوموړې ناروغي د سمې درملنې په واسطه تداوي کیدای شي، خو د خورا زیاتو خلکو هیڅکله هم درملنه نده شوې. هغه افغانان چې په ګڼ میشتو ښاري سیمو کې ژوند کوي، په ځانګړې توګه په نري رنځ د اخته کیدو له خطر سره مخ دي. سربېره پردې، په کلیوالو سیمو کې چیرې چې روغتیايي خدمتونو ته د لاسرسي کچه محدوده ده، د نري رنځ د ناروغۍ تشخیص او درملنې ته د خلکو زیات لاسرسی هم یوه ننګونه ده. د امریکا د متحده ایالاتو پرمختیایي اداره به د توبرکلوز په وړاندې د مبارزې د پروژې له لارې د خصوصي او دولتي سکتورونو د د ډاکټرانو او روغتیايي کارکوونکو سره کار وکړي ترڅو د نوموړې ناروغۍ د وختي تشخیص او معاینې چارې ښې او د زیانمنو شوو کسانو لپارهد درملنې ساحه پراخه کړي.

د توبرکلوز په وړاندې د مبارزې کمپاین به د افغانستان په پنځو لویو ښارونو-- کابل، مزارشریف، کندهار، هرات او جلال آباد باندې تمرکز ولري او د ۱۳ ولایتونو – بغلان، بدخشان، هرات، تخار، جوزجان، فاریاب، بامیان، خوست، کندهار، ننګرهار، بلخ، غزني او پکتیکا تر کلیوالو سیمو به ورسیږي ترڅو د افغانستان د ۵۰ سلنې څخه زیاتو وګړو لپاره د نوموړې ناروغۍ د درملنې خدمتونه ښه کړل شي.

د توبرکلوز په وړاندې د مبارزې پروژه د ټولو افغانانو لپاره د روغتیايي خدمتونو د ښه والي په برخه کې د امریکا د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې د پانګونې یوه برخه ده. د ۱۵ میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت دا پنځه کلن پروګرام به د افغانستان د عامه روغتیا له وزارت سره مرسته وکړي ترڅو په افغانستان کې د نري رنځ د ناروغۍ د له منځ وړلو په برخه کې خپله موخه ترلاسه کړي.

د امریکا د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیايي ادارې د پروګرامونو په اړه د لازیاتو معلوماتو او د مرکې د غوښتنې لپاره، مهرباني وکړئ د KabulAIDdoc@usaid.gov سره اړیکه ونیسئ او یا http://www.usaid.gov/Afghanistan ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ.

*The American people, through the U.S. Agency for International Development, have provided economic and humanitarian assistance worldwide for more than 50 years."*

| USAID on Facebook | USAID on Twitter | USAID on YouTube | USAID on Flickr |
|---|---|---|---|